د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو ریاست





- په افغانستان کې د لس میلیارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید تفاهم‌لیک لاسلیک شو
- د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پاشدان بند ګټې اخیستنې ته وسپارل شو
- څلور کلن مزل؛ لاسته راوړنې او پرمختګونه (لومړۍ برخه)
- 10,000 MEGAWATTS OF ELECTRICITY: EMPOWERING AFGHANISTAN'S INDEPENDENT INDUSTRIAL FUTURE

# آبادي
میاشتنی

گڼه ۵
اسد - ۱۴۰۴ هـ.ش
پرله‌پسې ۲۰ مه گڼه

"

د کرنې سکتور د پیاوړتیا له پاره مو د کورنیو کرنیزو محصولاتو کارول لومړیتوب کې نیولي دي. د اوبو لګولو سیستمونو ښه والي، سړو خونو د ایجاد او د پروسس او بسته بندۍ خونو د جوړولو په برخه کې پرمختګ سوی دی. د کرنې سکتور په ګډون چې د افغانستان ځومره توکي بهر ته صادرېږي، باید کیفیت او بسته بندۍ ته یې ډېره توجه وسي، ځکه دا زموږ د ټولو سکتورونو د پیاوړتیا، د افغانستان اعتبار او سوداګریزو اړیکو له پاره ډېر مهم دي.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

ABAADI

@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو ریاست

بسم الله الرحمن الرحیم

# ابادي

میاشتنۍ

5 گڼه

اسد - ۱۴۰۴ هـ.ش
پرله‌پسې ۲۰مه گڼه

**د امتیاز خاوند:** د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

**کتنپلاوی:** مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبيح الله ناصر، امان الله حنيفي
فضل ولي شيراني او نجيب الله مايار

**مسئول مدیر:** مولوي خالق داد تقي

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعيد

**فوټوژورنالیست** حجت الله قاضي زاده



مرمرينه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af



- د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخيستنه د سرچينې په ذکر کولو سره جواز لري.
- استفاده از مقالات و تصاوير مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


سـرلـيــکــنـــه 1

غـــونـــډې ۲ - ۹

اقتصادي پروژې، ليدنې کتنې او انفوگرافيکونه ۱۰ - ۳۳

د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې ۳۴ - ۴۳

English Section 1 - 5



# سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴ لمریز کال د اسـد میاشتې پـه ۲۳مه نېټه د هـرات ولایت په کرُخ ولسـوالۍ کې د پاشـدان بند ګټې اخیستنې ته وسـپارل شو. د ریاست الوزراء اقتصادي مرسـتیال وویل، افغانان نن په داسـې حال کې د خپلواکۍ څلورمه کلیزه لمانځي چې اسلامي امارت په تېرو څلورو کلونو کې د اسلامي شریعت د تطبیق او په سـیاسي او اقتصادي برخو کې ګڼې لاسـته راوړنې لري. د حاجي ملا صاحب په خبره، له همدې جملې یوه مهمه پروژه د پاشـدان بند دی چې ګټې اخیستنې ته و سـپارل شو. محترم ملا صاحب زیاته کړه: «تېر کال مې د دې پـروژې د پاتې چارو د پیل پر مهال ژمنه درسره کړې وه، چې اسلامي امارت به د پاشـدان بند پاتې چارې په ټول توان بشـپړوي. له نېکه مرغه، دا دی د پاشدان بند پاتې چارې بشپړې سوې.»

اوبـه هېوادونو ته حیاتي اهمیت لري. نو ښـه خبره داده چې د هېواد په کچه د اوبو مهارولو له پاره لوی او کوچني بندونه جوړ شي. دا چې د اوبو د بندونو جوړول لګښت ته اړتیا لري، خو د سطحي اوبو، تر ځمکه لاندې اوبو د زیرمو تغذیه او د اوبو د بې ځایه لګښـت له پـاره اړینه ده چې بندونه جـوړ او یا هغه بندونه چې پخوا جوړ شـوي، خو چارې نه دي بشـپړې شـوې، د هغو پاتې چارې بشپړې شي. په دې سره به لـه یوه لوري په هېواد کې د کرنې او سوداګرۍ سکټورونه وده وکړي او له بل لوري به هېواد تر یوه بریده له بهر څخه د واردېدونکې برېښنا څخه خلاصی ومومي. د برېښنا په برخه کې د شته ستونزو په له منځه تلو به د افغانسـتان صنعت پرمختګ وکړي او د صنعت په پرمختګ سره به اقتصادي ټېـکاو رامنځته شي. اسلامي امارت پورتنیـو ټکو ته په پاملرنـې سره د اوبو مهارولو او مدیریت په برخه کې رغنده ګامونه پورته کړي دي چې ښه بیلګه یې همدا د هرات ولایت د پاشدان بند د پاتې چارو بشپړول دي. د اسلامي امارت مسوولینو تل په خپلو خبرو کې پـر دې خبره ټینګار کـړی دی چې د افغانسـتان پرمختګ او ابادول ورته لومړیتوب لري. بله دا چې اسلامي امـارت د هېواد د ابادۍ په برخه کې شـعار نه بلکې تل عمل کوي. د پاشـدان بند د پاتې چارو د پیل په مراسمو کې د ریاسـت الـوزراء اقتصادي مرسـتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ژمنه کړې وه چې اسلامي امارت به په ټول توان د پاشدان بند پاتې چارې بشپړوي، اوس یې دغه ژمنه پوره کړه او د پاشدان بند پاتې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شـو. تر ټولو مهمه خبره داده چـې اسلامي امارت د هېواد د پرېمانـه اوبو د مهارولو او مدیریت له پاره قوي هوډ لري. هڅه یې داده چې په ټول تـوان اوبه مهـار او د هېواد شـاړې دښـتې زرغونې او سمسورې شي. د پاشدان بند د چارو په بشپړېدو سره به اوبـه مدیریت،کرنیـزې ځمکې به خړوبې او یـوه اندازه برېښنا به هم تولید شي. له دې چارې سره به له یوه لوري د کرنې برخه پوره وده وکړي، د کرنیزو محصولاتو په برخه کې به افغانستان پر ځان بسیا شي. له بل لوري به په کور د ننه برېښـنا تولید او په دې سره به صنعت وده وکړي. د دې چارو په ترسره کېدو به د هېواد اقتصاد غښتلی شي او هېواد به د پرمختګ په لور ګړندي ګامونه پورته کړي.



# د اقتصادي کمېسیون، تخنیکي او پانګونې بین الوزارتي کمېټو

# غونډې

# د ابونصـر فراهـي بنـدر

## د پراختيا لپاره ۴۰۰۰ جريبه ځمکه ځانګړې کېږي

د رياست‌الوزراء اقتصـادي مرسـتيال مـحترم ملا عبدالغنـي بـرادر اخونـد پـه مشرۍ د اقتصـادي کمېسـيون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د اسـد مياشـتې په لومړۍ نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. د اقتصادي کمېسـيون دې غونډې ته له اجنډا سره سـم د فراه ولايت د ابونصر فراهي بندر د تاسيسـاتو جوړولو او د موټرونـو د تخليې او بارګيرۍ لپـاره د ځمکې د انتقـال او د دغه بنـدر د پراختيا موضوع وړاندې شـوه. له بحث وروسـته پرېکړه وشوه چې په ابـونصر فراهي بنـدر کـې دې د تخليې او بارګيـرۍ او اړوندو ادارو لپـاره ۴۰۰۰ جريبه ځمکه ځانګړې شي. د کور او ښـار جوړولو وزارت دې د دغه بندر د پراختيا نقشـه او ډيزاين چمتو او پر ټاکلې نېټه دې اړوندو ادارو ته د تطبيق په موخه وسپاري.

همدارنګه ماليې وزارت ته هدايت وشو چې د دغه بندر د پراختيا پروژه د راتلونکي مالي کال په بوديجه کې د اړوندو وزارتونو له سهم څخه په پام کې ونيسي.

همدارنګـه په دې غونډه کې د خصوصي سـکټور له لوري د غزني ولايت په مرکز کې د کرنې، اوبولګولو او مالـدارۍ وزارت پر ځمکه د سـړې خونې او جوسـو کارخونې جوړولو پر طرحه هم بحث وشـو. له هراړخيز بحث وروسـته ياده طرحه تاييد شوه. د دې طرحې له مخې په ۳۵ جريبه ځمکه د ۵۰۰۰ ټنه په ظرفيت سړه خونه او همدا راز د جوسو کارخونه جوړېږي، چې ۱۴۰ ميليونه افغانۍ پانګونه پرې کېږي.

يـاد تصاميـم د منظـورۍ پـه موخـه د عاليقـدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب دفتر ته واستول شول.



# د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۲۹مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته له اجنډا سره سم له زر مینځونکو شرکتونو څخه د ثابتې مالیې په توګه د زرو اخیستلو او همداراز د کرومایټ ډبرو د کوچني او لوی مقیاس کانونو قراردادي شرکتونو څخه د ونډې پر بنسټ د رویالیټۍ د ورکړې موضوعات د بحث لپاره وړاندې شول. له بحث وروسته د ریاست‌الوزراء عالي مقام ته نظر ورکړل شو چې له زر مینځونکو شرکتونو څخه دې په میاشتني ډول په هر هکټار ځمکه د کټه‌ګورۍ له مخې، پنځه، لس او پنځلس ګرامه د لوړ معیار سره زر د ثابتې مالیې په توګه واخیستل شي. د سرو زرو دغه ثابته مالیه به د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري له زر مینځونکو شرکتونو څخه د رویالیټۍ اخیستلو پرمهال د مالیې وزارت د استازي په شتون کې اخیستل کېږي. همدارنګه په دې غونډه کې له مفصل بحث وروسته د ریاست‌الوزراء عالي مقام ته نظر ورکړل شو، چې د کوچني مقیاس کرومایټ ډبرو د استخراج ټول مصارف د شرکتونو پر غاړه دي او استخراج شوو او ناپروسس شوو کرومایټو کې د وزارت ونډه ۴۵ او د شرکت ونډه ۵۵ سلنه ده. د کوچني مقیاس هغه شرکتونه چې د پروسس فابریکه ولري او استخراج شوي کرومایټ پروسس کړي، په دې صورت کې بیا د وزارت ونډه ۴۰ او د شرکت ونډه ۶۰ سلنه ده.

همداراز د لوی مقیاس کرومایټ ډبرو د استخراج ټول مصارف د شرکتونو پر غاړه دي او استخراج شوو او ناپروسس شوو کرومایټو کې د وزارت ونډه ۳۵ او د شرکت ونډه ۶۵ سلنه ده. د لوی مقیاس هغه شرکتونه چې د پروسس فابریکه ولري او استخراج شوي کرومایټ پروسس کړي، په دې صورت کې بیا د وزارت ونډه ۳۰ او د شرکت ونډه ۷۰ سلنه ده.

د کرومایټ ډبرو د کوچني او لوی مقیاس کانونو د هغو قراردادي شرکتونو په حق کې هم دا پرېکړه د تطبیق وړ ده، چې له وړاندې څخه یې کرومایټ استخراج کړي او اوسمهال په ساحه کې پراته دي.

یادې پرېکړې د نهایي تصمیم په موخه د امیرالمؤمنین شیخ صاحب دفتر ته واستول شوې.

# په خوست کې د لس پوړيز سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه د تاييد وړ وبلل شوه

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د اسد مياشتې په اوومه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه. غونډې ته له اجنډا سره سم په خوست ولايت کې د ښاروالۍ پر ځمکه د لس پوړيز سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. له هراړخيزې ارزونې وروسته ياده طرحه د تاييد وړ وبلل شوه او د نهايي تصميم نيونې په موخه اقتصادي کمېسيون ته راجع شوه. د دې طرحې له مخې به خصوصي سکټور د لس پوړيز سوداګريز مارکېټ جوړولو لپاره ۲۳۵ ميليونه افغانۍ پانګونه وکړي، چې سلګونو کسانو ته به په مستقيم او غير مستقيم ډول د کار زمينه هم برابره کړي.

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې دې غونډې ته په بغلان ولايت کې له ډبرو سکرو څخه د برېښنا توليد او په کابل/ لوګر کې د کرنيز کمپلکس (سړې خونې، پروسس او بسته بندۍ مرکز) جوړولو طرحې هم د بحث لپاره وړاندې شوې. د يادو طرحو د هراړخيزې ارزونې په موخه کمېټې وټاکل شوې، څو په ټاکلي وخت خپل راپورونه د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.



# په ننګرهار او تخار ولایتونو کې د سوداګریزو مارکېټونو جوړولو طرحې د تایید وړ وبلل شوې

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۱۴مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د ننګرهار ولایت په جلال اباد ښار کې د ښاروالۍ پر ځمکه تر ځمکې لاندې مارکېټ جوړولو طرحه د تاییدۍ لپاره وړاندې شوه. له هراړخیز بحث وروسته یاده طرحه د تایید وړ وبلل شوه. د دې طرحې له مخې به خصوصي سکټور پر دغه تر ځمکې لاندې مارکېټ جوړولو ۹۵ میلیون افغانۍ پانګونه کوي، چې ۱۸۳ دوکانونه به ولري.

دې غونډې ته همداراز د تخار ولایت په خواجه غار ولسوالۍ کې د ښاروالۍ په ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه هم د تاییدۍ لپاره وړاندې شوه. له هراړخیز بحث وروسته دغه طرحه تایید شوه. د دې طرحې له مخې به خصوصي سکټور د یاد سوداګریز مارکېټ جوړولو لپاره ۴۸ میلیونه افغانۍ پانګونه کوي، چې ۱۰۴ دوکانونه به ولري.

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې دې غونډې ته همداراز د تخار ولایت په تالقان ښار کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه هم د بحث لپاره وړاندې شوه. د یادې طرحې د هراړخیزې ارزونې لپاره ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو یې مالي او تخنیکي اړخونه و ارزوي او خپل راپور په ټاکلي وخت د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.





## کمیته سرمایه گذاری بین‌الوزارتی، روی **طرح‌های مختلف سرمایه‌گذاری** بحث نمود

نشست نوبتی کمیته سرمایه گذاری بین الوزراتی در قصر مرمرین برگزار شـــد. در این نشست، طرح‌های تولید برق بـــادی در ولایت‌های هرات و نیمروز و ســـاخت مارکیت تجارتی در شهر کابل برای بحث ارائه گردید. پس از بحث همه‌جانبه، کمیته‌های جداگانه مؤظف گردید تا این طرح هـــا را از دید تخنیکی، مالی و اقتصادی ارزیابی نموده و گزارش‌های‌شـــان را در زمان تعیین‌شده به کمیته سرمایه گذاری بین‌الوزارتی ارائه نمایند .



# په کابل ښار کې پر دېوالونو د برېښنا سپمولو په اړه د پیغامونو لیکلو طرحه د تایید وړ وبلل شوه

د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۱۳مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته په کابل ښار کې پر دېوالونو د برېښنا سپمولو په اړه د پیغامونو لیکلو طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. له هراړخیز بحث وروسته د تخنیکي کمېټې د سپارښتنو په پام کې نیولو سره یاده طرحه د تایید وړ وبلل شوه او د نهایي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شوه. د دې طرحې له مخې به پر دېوالونو او د رسنیو له لارې هغه پیغامونه لیکل او خپرېږي، چې خلکو ته د برېښنا سپمولو په برخه کې عامه پوهاوی ورکوي.

د تخنیکي کمېټې دې غونډې ته د کارگرانو ملي اتحادیې د اساسنامې د تعدیل، د یادې اتحادیې جایدادونو د برخلیک معلوملو او همداراز د کاري جوازونو د ورکړې او کابل ته د پنجشیر سیند د اوبو انتقال پروژې په اړه ټاکل شوو کمېټو خپل راپورونه وړاندې کړل. دغه راپورونه د تخنیکي کمېټې له لوري تایید او د نهایي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شول.

# د ماليې وزارت د عايداتي فرصتونو راپور
## د تایید وړ وبلل شو

د اقتصادي کمېسيون د تخنيکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د اسد مياشتې په ۲۰مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه. د تخنيکي کمېټې دې غونډې ته د ماليې وزارت له لوري د عايداتي فرصتونو راپور وړاندې شو. له هراړخيزې ارزونې وروسته ياد راپور د تایید وړ وبلل شو.
د دې راپور له مخې، ماليې وزارت ۱۷ هغه عايداتي سرچينې په ګوته کړې چې په بياځلې فعالېدو او سم مديريت سره يې په کلني ډول د حکومت خزانې ته په لسګونو ميليارده افغانۍ عوايد جمع کېدلی شي. دغه راپور د تصميم نيونې په موخه اقتصادي کمېسيون ته راجع شو.
همداراز دې غونډې ته د ښاري منظورو شويو پلانونو د پلي کېدو او په هغو کې د شته نمرو د ويش په اړه د جوړ شوي طرزالعمل راپور هم وړاندې شو. دغه طرزالعمل د يوې ګډې کمېټې له لوري جوړ شوی، چې تر توشيح وروسته به تطبيق شي.





# اقتصادي پروژې

## ليدنې کتنې او انفوګرافيکونه

# په یوځای د مالیاتو د ورکړې په اړه

## له ملي سوداګرو او صنعت‌کارانو سره مشورتي ناسته ترسره شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت او مالیې وزارت مسوولینو د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په لومړۍ نېټه د ارګ په سلام خانې ماڼۍ کې د هېواد له ۴۰۰ زیاتو ملي سوداګرو او صنعت‌کارانو او د صنعت او معدن او سوداګرۍ او پانګونې خونو له ولایتي رییسانو سره وکتل. په دې غونډه کې له تجارتي وارداتي شرکتونو څخه په ګمرک کې په یوځای د ثابتو مالیاتو اخیستلو په اړه بحث وشو.

په لومړي سر کې د هېواد ملي سوداګرو او صنعت کارانو له اسلامي امارت څخه مننه وکړه، چې دوی ته یې بې شمېره سهولتونه رامنځته کړي او د همدې سهولتونو په ترڅ کې سوداګرۍ او صنعت د پخوا په پرتله ډېر پرمختګ کړی دی.

ملي سوداګرو او صنعت‌کارانو د سوداګرۍ کچې د لا پراختیا په موخه په اتفاق غوښتنه وکړه چې له تجارتي وارداتي شرکتونو څخه دې په یوځای ثابت مالیات واخیستل شي. دوی وویل، په دې سره به وتوانېږي چې د خپلو سوداګریزو انتقالاتو حجم څو برابره زیات او ټول وارداتي تجارتي شرکتونه به د مالیاتي بررسۍ له ستونزو خلاص شي. یاده موضوع به د وروستۍ تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون او بیا د اسلامي امارت مشرتابه عالي مقام ته وړاندې شي.



## در بخش‌های مختلف، به صنعت کاران و تاجران اطمینان داده شد که مشکلات‌شان حل خواهد شد

مسؤلان معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء و وزارت مالیه به تاریخ ۲ اسد ۱۴۰۴ خورشیدی در قصر مرمرین با حدود ۱۵۰ تن از نمایندگان تاجران ملی و صنعت‌کاران کشور دیدار کردند.

در این دیدار، تاجران و صنعت‌کاران ملی کشور مشکلات خود را در زمینه‌های کمبود برق، توزیع زمین در پارک‌های صنعتی، ساخت زیربناهای صنعتی، ایجاد سهولت‌ها در روند صادرات، حل مشکلات فوموگیشن و ترانزیت، ایجاد دهلیزهای هوایی، کاهش تعرفه بر محصولات زراعتی و مواد معدنی، کاهش کرایه ترانسپورتی، حل مشکلات گمرکی، تسریع روند تخلیه و بارگیری، ایجاد سردخانه‌ها، تمدید جوازها، صدور ویزه‌های تجارتی، ساخت سرک‌های بزرگ ترانسپورتی و ترانزیتی، فراهم‌سازی بازارهای خارجی برای تولیدات افغانی و سایر بخش‌ها شریک ساختند.

مسؤلان معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء و وزارت مالیه به تاجران و صنعت‌کاران ملی کشور اطمینان دادند که برای حل بسیاری از مشکلات یادشده، وزارت‌ها و ادارات مربوطه گام‌های جدی برداشته‌اند و به‌زودی حل خواهند شد. آنان همچنین اطمینان دادند که در بخش‌های باقی‌مانده نیز به‌گونه جدی با وزارت‌ها و ادارات مربوطه کار خواهند کرد و راه‌حل را با کمیسیون اقتصادی و مقام عالی رهبری امارت اسلامی شریک خواهند ساخت.



# د لس زره ټنه کلني ظرفیت په درلودو سره
# د ممیزو د پروسس فابریکه پرانیستل شوه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په اتمه نېټه د کابل ولایت په استالف ولسوالۍ کې د ممیزو د پروسس فابریکه پرانیستل شوه.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دې فابریکې د فعالیت پیل د کرنیزو محصولاتو د ارزښت لوړولو په برخه کې مهم ګام یاد کړ او ویې ویل، په دې سره به د سیمې اقتصاد په حرکت راشي، صادرات به معیاري بڼه غوره کړي او سلګونو هېوادوالو ته به د کار زمینه هم برابره شي، چې دا د هېواد له اقتصادي ودې سره د پام وړ مرسته کولی شي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، اسلامي امارت د نورو برخو ترڅنګ د کرنې سکټور ته هم ځانګړې پاملرنه کړې او د کرنیز اقتصاد د ودې په هدف د اوبو مدیریت بېلابېلې پروژې پیل شوې.

محترم ملا صاحب وویل، اسلامي امارت د سیمې او نړۍ هېوادونو ته د کرنیزو محصولاتو د صادراتو لپاره اسانتیاوې رامنځته کړې دي، دغو محصولاتو ته یې د بازارموندنې په موخه نندارتونونه جوړ کړي او پر هغو وارداتو یې تعرفې لوړې کړې، چې په کور د ننه تولیدېږي.

حاجي ملا صاحب زیاته کړه چې همدارز اسلامي امارت د کرنې سکټور د پیاوړتیا لپاره د کورنیو کرنیزو محصولاتو کارولو ته لومړیتوب ورکړی، د اوبو لګولو سیستمونو د ښه والي، سړو خونو د ایجاد او د پروسس او بسته بندۍ خونو د جوړولو په برخه کې هم پرمختګ شوی. محترم ملا صاحب بهر ته د کرنیزو محصولاتو د صادراتو پر کیفیت او بسته‌بندۍ ټینګار وکړ او دا یې د افغانستان د اعتبار او سوداګریزو اړیکو لپاره مهم وبلل.

محترم ملا عبدالغنی برادر اخوند وویل اسلامي امارت د




سوداګرۍ کچې زیاتېدو لپاره پر سیمه‌ییز اتصال ډېر تمرکز کړی او له نیکه‌مرغه اوسمهال د افغانستان د اوسپنې پټلۍ شبکې پراختیا موندلې چې پرمټ یې له ډېرو هېوادونو سره د افغانستان سوداګریزې اړیکې ټینګې او پراخې شوې دي.

هغه زیاته کړه چې اسلامي امارت هڅه کوي څو د لاجوردو دهلېز په بشپړ ډول فعال شي او په دې اړه یې د ایکو سازمان په وروستۍ غونډه کې هم د دغه دهلیز له ښکېلو هېوادونو سره خبرې کړې دي، څو افغانستان د اروپا بازارونو ته لاسرسی پیدا کړي.

د دغه فابریکې د پرانیستې پرمهال د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د هېواد په اقتصادي وده کې د خصوصي سکټور او پانګوالو رول مهم وباله او ویې ویل، چې پانګوالو ته یې په مختلفو برخو کې اسانتیاوې رامنځته کړې دي. هغه زیاته کړه، ټول پانګوال کولی شي پر کرنه او صنعت سربېره، د کانونو، انرژۍ، مخابراتو، ترانسپورټ او خدماتو په برخو کې هم پانګونه وکړي.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د افغان سمون د ممیزو د پروسس فابریکې مسوولینو د پانګونې او د فعالیت د پیل هرکلی وکړ او هغوی ته یې د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ. محترم ملا صاحب د دې فابریکې له مسوولینو وغوښتل چې د کمیت پر ځای کیفیت او معیاري پروسس او بسته‌بندۍ ته لومړیتوب ورکړي.

د یادونې وړ ده چې سمون د ممیزو د پروسس فابریکه په ۱۲۸ جریبه ځمکه جوړه شوې، ۸ میلیون ډالر پانګونه پکې شوې او په کلني ډول د ۱۰ زره ټنه ممیزو د پروسس وړتیا لري. د دغه فابریکې له لوري پروسس او بسته‌بندي شوي ممیز به روسیې، سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو، هند، کاناډا، امریکا، برېټانیا او د ختیځې اسیا هېوادونو ته صادر شي.

# په افغانستان کې د لس میلیارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید تفاهم‌لیک لاسلیک شو

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۱۱مه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د اوبو او انرژۍ وزارت او عزیزي انرژي خصوصي شرکت ترمنځ د لس میلیارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید، لېږد او ویش په برخه کې تفاهم لیک لاسلیک شو. د دغه تفاهم‌لیک د لاسلیک پرمهال د عزیزي انرژي خصوصي شرکت عمومي رییس میرویس عزیزي وویل، د اسلامي امارت په همکارۍ او ملاتړ د دغه پانګونې لپاره قوي هوډ او پوره ژمنتیا لري چې سر له سبا به یې عملي چارې پیل شي.عزیزي انرژي خصوصي شرکت به د هېواد په مختلفو برخو کې له ګازو، ډبرو سکرو، اوبو، باد او لمر څخه لس زره میګاواټه برېښنا تولید کړي. په دې سره به له ۷ تر ۱۰ کلونو په جریان کې افغانستان د برېښنا تولید په برخه کې بشپړې خودکفایۍ ته ورسېږي او ان بهرنیو هېوادونو ته به هم برېښنا صادره کړي. د لس زره میګاواټه برېښنا څخه به څلور زره میګاواټه برېښنا عامو هېوادوالو او شپږ زره میګاواټه به صنعتي فابریکو ته ځانګړې وي، چې له مخې به یې په زرګونو نوې فابریکې جوړې شي، په میلیونونو افغانانو ته به د کار زمینه برابره او د هېواد اقتصاد به ورسره د پام وړ پرمختګ وکړي. د دغه تفاهم‌لیک له لاسلیک وروسته به د اسد میاشتې ۱۲مه نېټه د اوبو او انرژۍ وزارت او عزیزي انرژي خصوصي شرکت تخنیکي ټیمونه اړوندو سیمو ته لاړ شي، د لسو ورځو په جریان کې به سروې بشپړه کړي او په راتلونکو شپږو میاشتو کې به یې ډیزاین چمتو شي. له شپږ میاشتو وروسته به په لومړي سر کې له دوه تر درېیو زرو میګاواټو برېښنا د تولید پروژو عملي چارې پیل شي.



# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد له ملي سوداګر او پانګوال میرویس عزیزي سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۱۱مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د هېواد له ملي سوداګر او پانګوال میرویس عزیزي سره وکتل. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په لومړي سر کې د عزیزي ګروپ عمومي رییس میرویس عزیزي او د هغه تخنیکي ټیم ته ښه راغلاست ووایه او په هېواد کې د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید په برخه کې یې د عزیزي انرژۍ شرکت د لس میلیارد ډالره پانګونې هرکلی وکړ. محترم ملا صاحب ښاغلي میرویس عزیزي ته د اسلامي امارت له لوري د پوره همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ او ویې ویل، چې اوسمهال په هېواد کې د پانګونې لپاره ښه زمینه برابره شوې او د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب د فرمان له مخې پانګوالو او سوداګرو ته لازمې اسانتیاوې برابرې او کورنیو تولیداتو ته لومړیتوب ورکړل شوی دی.

د عزیزي انرژي شرکت عمومي رییس میرویس عزیزي د خپلو خبرو پرمهال وویل، له لسیزو جګړو او ناخوالو وروسته اوسمهال د هېواد د ابادۍ ښه فرصت برابر شوی. نوموړي زیاته کړه، له همدې فرصت څخه یې په استفادې په هېواد کې د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید په برخه کې پانګونه پیل کړه، چې له مخې به یې د هېواد صنعت او کرنه وده وکړي او په زیات شمېر هېوادوالو ته به کاري فرصتونه رامنځته کړي. ښاغلي عزیزي د اسلامي امارت له مسوولینو مننه وکړه چې په اړوندو برخو کې یې پوره همکاري ورسره کړې او هغه ټینګار وکړ، چې د یادې پانګونې او پروژو د ښه تطبیق په موخه به د اړوندو وزارتونو له مسوولینو سره وخت پر وخت لیدنې کوي. ښاغلي عزیزي زیاته کړه، پر دې سربېره چمتو دی چې په کابل کې د سرطاني ناروغیو د درملنې په موخه په ټولو معیارونو د برابر روغتون چارې هم په نږدې وخت کې پیل کړي.



# لوګر کې د څلوېښت میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې چارې پیل شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په نهمه نېټه د لوګر ولایت په محمدآغه ولسوالۍ کې د څلوېښت میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې چارې پیل شوې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په لوګر ولایت کې د څلوېښت میګاواټه لمریزې برېښنا پروژې د کار پیل د دغه ولایت او په ټوله کې د افغانستان د اقتصادي ودې له پاره ښه فرصت وباله او زیاته یې کړه، د دغو پروژو په بشپړېدو سره به په لوګر ولایت کې د برېښنا د کمښت ستونزه تر یوې کچې راکمه ، صنعتي فعالیتونه به زیات او ګڼو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه ایجاد شي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د دې پروژو په تطبیق سره به په لوګر ولایت کې اقتصادي فعالیتونه زیات او د محمد اغې صنعتي پارک د برېښنا ستونزه به هم حل شي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند برېښنا د هېوادونو د پرمختګ له پاره مهمه اړتیا وبلله او د هېواد د وروسته پاتې والي یو لامل یې د کافي برېښنا نشتوالی یاد کړ. محترم ملاصاحب وویل، افغانستان د انرژۍ د تولید ډېرې سرچینې لري، خو له بده مرغه د انرژۍ له دغو سرچینو څخه سمه استفاده نه ده شوې چې له امله یې هېواد په بهرنۍ برېښنا متکي دی او هر کال سلګونه میلیون ډالره د هغه په بدل کې نورو هېوادونو ته ورکوي. محترم حاجی ملا صاحب په خپلو خبرو کې وویل، د اسلامي امارت په راتګ سره د نورو سکټورونو ترڅنګ د انرژۍ په سکټور کې هم د پام وړ پرمختګ شوی او په مختلفو ولایتونو کې د نوې کېدونکې انرژۍ د تولید پروژې پېل شوې او د انرژۍ د تولید ترڅنګ د برېښنا د وېش، تنظیم، صنعتي سیمو او هېوادوالو ته د انرژۍ د رسولو یو شمېر پروژې هم تر کار لاندې دي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، اسلامي امارت کلک هوډ کړی چې افغانستان به د انرژۍ له اړخه پرځان بسیا کوي او دا هېواد کولای شي نه یوازې د خپلې اړتیا وړ برېښنا تولید کړي بلکې دا ظرفیت لري چې حتی نورو هېوادونو ته هم خپله برېښنا صادره کړي، خو د دې له پاره اړتیا ده چې په هېواد کې اوبه مدیریت او له لمر او باد څخه سالمه استفاده وشي چې اسلامي امارت په همدې موخه اوږد مهاله پلانونه تر کار لاندې نیولي دي.

محترم ملا صاحب د پروژو له قراردادي شرکت څخه وغوښتل چې د کار کیفیت ته جدي پام وکړي او په ټاکلي وخت یې بشپړ کړي.

دا پروژه چې د لوګر ولایت په محمدآغه ولسوالۍ کې پلي کېږي دوې برخې لري چې یوه یې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید دستګاه جوړول دي چې په بشپړولو یې ۲۸ میلیون ډالره لګښت راځي. د دې پروژې بله برخه د ۱۲۶ میګاولټ امپیر سب استیشن جوړول او د برېښنا د انتقالي لین غځول دي چې ۷ میلیونه او ۶۰۰ زره ډالره لګښت لري. دا پروژه چې په پام کې ده په ۱۸ میاشتو کې یې د جوړولو چارې بشپړې شي، د سیمې ۴۰ زره کورنیو ته به د اړتیا وړ برېښنا ورسوي او د محمدآغې د صنعتي پارک د برېښنا د کموالي ستونزه به هم حل کړي.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د تاتارستان جمهوریت د لومړي وزیر له مرستیال سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۱۴مه نېټه په ارګ کې د تاتارستان جمهوریت د لومړي وزیر له مرستیال او صنعت او سوداګرۍ وزیر اولیګ ولادیمرووېچ کورو بچینکو سره وکتل.

د دې لیدنې پرمهال دواړو لورو د اقتصادي همکاریو او ګډې سوداګرۍ پر زیاتوالي خبرې وکړې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په لومړي سر کې له روسیې فدراسیون څخه منندوي وکړه چې اسلامي امارت یې په رسمیت وپېژانده او په دې سره د دواړو هېوادونو ترمنځ ډیپلوماتیکې اړیکې نوي پړاو ته داخلې شوې. محترم ملا صاحب وویل، اسلامي امارت د روسیې فدراسیون له ټولو جمهوریتونو سره پراخې اقتصادي او سوداګریزې اړیکې غواړي او په دې اړه یې د کازان په ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم کې ګټور مجلسونه درلودل.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، اسلامي امارت په افغانستان کې په مختلفو سکټورونو کې کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې زمینه برابره کړې او له خپل لوري د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکوي. د محترم ملا صاحب په خبره، د تاتارستان جمهوریت کولی شي له دې فرصت څخه په استفادې په افغانستان کې د سړکونو، تونلونو، اوبو رسولو شبکو، بندونو او کورونو جوړولو، کیمیاوي صنعت او همداراز له پنجشیر سیند څخه کابل ته د اوبو انتقال په پروژه کې پانګونه وکړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کابل او کازان ترمنځ د ګډې سوداګرۍ د زیاتوالي لپاره تاتارستان ته د افغاني صادراتو پر زیاتوالي او همداراز له دغه هېواد څخه د باکیفیته خوراکي توکو، درملو او تخنیکي وسایلو پر وارداتو او ددې ترڅنګ د دواړو لورو د اړوندو وزارتونو او ادارو پر ګډ کار کولو هم ټینګار وکړ.

ورپسې د تاتارستان د لومړي وزیر مرستیال اولیګ ولادیمرووېچ کورو بچینکو خبرې وکړې. نوموړي وویل، د روسیې فدراسیون له لوري د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنې سره د تاتارستان او افغانستان ترمنځ په مختلفو برخو کې د تعامل لپاره ډېر سهولتونه رامنځته شوي دي. هغه زیاته کړه، چمتو دي چې له پنجشیر سیند څخه کابل ته د اوبو د انتقال پروژه او همداراز نورو برخو کې پانګونې وکړي. د تاتارستان د لومړي وزیر مرستیال زیاته کړه، د دې سفر پرمهال د تاتارستان د صنعتي شرکتونو مسوولین ورسره راغلي او لېواله دي چې له افغانستان سره په مختلفو برخو کې همکاري پیل کړي.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال کابل ته د تاتارستاني پلاوي راتګ د کابل او کازان ترمنځ په مختلفو برخو کې د اړیکو پراخولو لپاره د نوي او ګټور باب پیل وباله.

# د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري
# **پاشدان بند ګټې اخیستنې ته وسپارل شو**

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۲۳مه نېټه د هرات ولایت په کرُخ ولسوالۍ کې د پاشدان بند ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، افغانان نن په داسې حال کې د خپلواکۍ څلورمه کلیزه لمانځي چې اسلامي امارت په تېرو څلورو کلونو کې د اسلامي شریعت د تطبیق او د سیاسي او اقتصادي برخو په ډګر کې ګڼې لاسته راوړنې لري. د دغه په خبره، له همدې جملې یوه مهمه پروژه د پاشدان بند ده چې نن ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د پاشدان بند پروژه د هرات ولایت له پاره مهمه او حیاتي وبلله او ویې ویل، په دې سره به په دغه ولایت کې د وچکالۍ اغېزې راکمې او د بزګرانو ستونزې به حل شي. محترم ملا صاحب زیاته کړه: «تېر کال مې د دې پروژې د پاتې چارو د پیل پر مهال ژمنه درسره کړې وه، چې اسلامي امارت به د پاشدان بند پاتې چارې په ټول توان بشپړوي. له نېکه مرغه، دا دی د پاشدان بند پاتې چارې نن بشپړې سوې.»

محترم ملا صاحب وویل، په تېر کې د اشغالونو له امله د هېواد اقتصاد وده نه ده کړې او د نورو هېوادونو پر مشروطو مرستو ولاړ و. خو اسلامي امارت هوډ کړی چې د هېواد اقتصادي وضعیت په رښتینې معنی پیاوړی او د نورو له احتیاج څخه خلاص کړي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي وضعیت د ښه کېدو له پاره د ملي او سیمه‌ییزو پروژو ملاتړ کوي. په هرات ولایت کې د ټاپي پروژې د کارونو جریان ثابتوي چې اسلامي امارت په سیمه کې اقتصادي همغږي، متقابله همکاري او ثبات غواړي. د دغه په خبره، اسلامي امارت د افغانستان او سیمې د اقتصادي ثبات لپاره اقتصاد محوره پالیسي تعقیبوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل: «اسلامي امارت غواړي له خپلو ټولو طبیعي سرچینو څخه سالمه استفاده وکړي او د چا د حق اخیستلو هوډ نه لري. موږ غواړو چې هم خپلې اوبه په سالم ډول مدیریت کړو او هم د نورو ثابت حقوق ورکړو. د اوبو له مدیریت څخه مو موخه د خپل هېواد د اقتصاد پیاوړي کول دي. په هېواد کې د بې وزلۍ، بې کارۍ او مهاجرت کچې راټیټولو لپاره د اوبو مدیریت له اساسي کارونو څخه ګڼو.»

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال پر ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو غږ وکړ چې د اوبو او کرنې سکټور تر څنګ په نورو سکټورونو کې هم پانګونه ترسره او له دې فرصت څخه استفاده وکړي. په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ټولو هېوادوالو ته د دې سترې پروژې د بشپړېدو مبارکي وویله او د اسلامي امارت له مسوولینو، د پاشدان بند له انجینرانو، تخنیکي ټیمونو، کارګرانو او ټولو هغو کسانو څخه یې مننه وکړه، چې د دې بند په بشپړولو کې یې همکاري کړې ده.

د یادونې وړ ده چې پاشدان بند د ۵۴ میلیون متر مکعب اوبو د ذخیره کولو، د ۱۳ زره هکتاره ځمکې د خړوبولو او دوه میګاواټه برېښنا د تولید وړتیا لري، چې زرګونو هېوادوالو ته به د کار زمینه برابره کړي.

## بهرنیو هېوادونو ته په قانوني ډول

# د افغان ماهرو او مسلکي کارګرانو د لېږلو پروسه پیل شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د اسد میاشتې په شپږمه نېټه په انټر کانټینینټال هوټل کې بهرنیو هېوادونو ته په قانوني توګه د افغان ماهرو او مسلکي کارګرانو د لېږلو پروسې د پیل په مراسمو کې ګډون وکړ.

محترم ملا صاحب بهرنیو هېوادونو ته د افغان کارګرانو د لېږلو پروسه د هېواد د اقتصادي وضعیت د ښه والي او بې‌کارۍ کچې په راټیټولو کې مؤثره وبلله او زیاته یې کړه، چې اسلامي امارت له تېرو څلورو کلونو راهیسې هڅه کړې څو د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جذب او له نورو هېوادونو سره د اقتصادي اړیکو د پراختیا له لارې په هېواد کې کاري فرصتونه ایجاد کړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، اوسمهال په هېواد کې د مختلفو پروژو عملي کارونه روان دي او له نورو هېوادونو سره سوداګرۍ او اقتصادي اړیکو پراختیا موندلې ده. دې ټولو د هېواد د کار په بازار مثبت تاثیر کړی او ډېر کاري فرصتونه یې ایجاد کړي. د هغه په خبره، پردې سربېره اسلامي امارت هڅه کوي څو له بېلا بېلو لارو چارو څخه په استفادې په هېواد کې د بې کارۍ کچه راکمه کړي، چې یوه لار یې په قانوني ډول بهرنیو هېوادونو ته د افغان کارګرانو لېږل دي او له نیکه مرغه دا پروسه نن پیل شوه. محترم ملا صاحب زیاته کړه، په بهر کې د کاري فرصتونو ایجاد به له کوربه هېوادونو سره د افغانستان سوداګریزو او اقتصادي اړیکو ته لا ډېره پراختیا برابره کړي، اړیکې به نږدې او د افغانستان نړیوال اعتبار به لوړ کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، په پرمختللو هېوادونو کې د افغان کارګرانو کار کول دوی ته دا فرصت ورکوي چې نوي مهارتونه زده او له نوې ټکنالوژۍ سره بلد شي او هېواد ته له راتګ وروسته یې د هېواد په ګټه وکاروي. محترم ملا صاحب ټولو هېوادوالو ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت په هېواد کې د بې‌کارۍ کچې د کمولو لپاره جدي هڅې کوي او غواړي هیوادوالو ته هوسا او خوشاله ژوند برابر کړي. په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کار او ټولنیزو چارو وزارت له مسوولینو مننه وکړه، چې قطر ته یې د افغان کارګرانو د قانوني لیږلو زمینه برابره کړه. د دغه وزارت له مسوولینو یې همدا راز وغوښتل چې خپلو هڅو ته دوام ورکړي او نورې اسانتیاوې هم رامنځته کړي. محترم ملا صاحب له قطر هېواد څخه هم مننه وکړه چې په دې برخه کې یې همکاري وکړه او افغان کارګران قبلوي. محترم ملا صاحب له نورو هېوادونو څخه هم وغوښتل چې د افغان کارګرانو قانوني لیږلو ته زمینه برابره او د هغوی له استعداد او مهارتونو څخه ګټه واخلي. د یادونې وړ ده چې د افغانستان اسلامي امارت او قطر هېواد ترمنځ د ۲۰۰۰ ماهرو او مسلکي افغان کارګرانو د لېږلو هوکړه شوې ده. د کار او ټولنیزو چارو وزارت مسوولین زیاتوي، چې پر قطر سربېره له ایران، روسیې، متحده عربي اماراتو، عمان، تاجکستان، ترکیې، اذربایجان، سعودي عربستان او یوشمېر نورو هېوادونو سره هم د افغان کارګرانو د لېږلو په اړه خبرې دوام لري او دا پروسې د نهایي کېدو په حال کې دي.

# با سرمایه‌گذاری ۲۴۳ میلیون دالر
## قرارداد چهار پروژه برق با ازبیکستان به امضاء رسید

در حضور داشت محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، به تاریخ ۲٦ اسد ۱۴۰۴ خورشیدی، در مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت، میان د افغانستان برشنا شرکت و ازبیکستان قرارداد چهار پروژه برق امضاء شد. در مراسم امضای این قراردادها، محترم جورابیک میرزا محمدوف، وزیر انرژی ازبیکستان نیز حضور داشت.

این پروژه‌ها شامل تمدید لین برق ۵۰۰ کیلوولت سرخان – دشت‌الوان با ظرفیت ۱۰۰۰ میگاوات، توسعه سب‌استیشن ارغندی با ظرفیت ۸۰۰ میگاولت آمپیر، تمدید لین برق ۲۲۰ کیلوولت کابل – شیخ‌مصری با ظرفیت ۸۰۰ میگاوات و ایجاد سب‌استیشن شیخ مصری ننگرهار با ظرفیت ۱۲٦ میگاولت آمپیر می‌باشد، که از سوی ازبیکستان حدود ۲۴۳ میلیون دالر در آن سرمایه‌گذاری می‌شود.

با تکمیل این پروژه‌ها، افغانستان از ازبیکستان بین ۸۰۰ تا ۱۰۰۰ میگاوات برق دریافت خواهد کرد که کارهای آن در مدت ۱۸ ماه به پایان خواهد رسید.



# محتـــرم ملا عبدالغنـــي بـــرادر اخـــوند
# د ازبیکستان د انرژۍ له وزیر سره وکتل





د ریاســـتالوزراء اقتصـــادي مرســـتیال مـــحترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشـــتې په ۲۶مه نېټـــه په خپـــل کاري دفتر کې د ازبیکســـتان د انرژۍ وزیر جورابیک میرزا محمدوف او راغلي هیئـــت سره وکتل. د دې لیدنـــې پرمهال دواړو لورو د اقتصـــادي اړیکو او په ځانګړي ډول د انرژۍ په برخه کې د همکاریو پر پراختیا خبرې وکړې.

د ریاســـتالوزراء اقتصادي مرســـتیال وویـــل، د ایکو ســـازمان د ۱۷ مـــې سرمشریزې په څنـــډه کې یې د ازبیکستان له ولسمشر شوکت میرضیایف سره د لیدنې پرمهال د کابل او تاشکند ترمنځ د سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو اړیکو په اړه ګټور مجلس درلود، چې نن په هماغه مجلس کې د شوو پرېکړو د تعقیب او تطبیق په موخه په کابل کې د افغانســـتان برېښـــنا شرکت او ازبیکســـتان ترمنځ د انرژۍ په برخـــه کې د څو مهمو پروژو تړونونه لاسلیک شول. محترم ملا صاحب له ازبیک لوري وغوښتل څو د پروژو د بشپړېدو لپاره ټاکل شوي وخت او کیفیت ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

ورپســـې د ازبیکســـتان د انرژۍ وزیر جورابیک میرزا محمـــدوف خبرې وکـــړې. هغه وویل، د ازبیکســـتان ولســـمشر د افغانســـتان د اقتصادي پرمختګ او ثبات غوښـــتونکی دی او په همدې موخه د تاشکند او کابل ترمنځ د اقتصادي اړیکو پراختیا او د همکاریو زیاتوالي ته ځانګړې پاملرنه کوي. ښاغلي محمدوف زیاته کړه، په ټاکلي وخت او ښـــه کیفیت سره د یادو پروژو تطبیق ته پوره چمتووالی لري او په ساختماني برخه کې به له افغان شرکتونو سره په ګډه ډېر ژر عملي کار پیل کړي.

نومـــوړي زیاته کـــړه، ازبیک لوری چمتـــو دی چې د انرژۍ، کرنې، کانونو، صنعت، روغتیا او د متخصصینو روزلـــو په برخه کې له افغان لـــوري سره خپلې تجربې شریکې کړي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اکبر موسسې له رییس سره وکتل

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۲۷مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د اکبر موسسې له رییس نمیک حیدروف سره وکتل. په دې لیدنه کې په افغانستان کې د پراختیایي پروژو پر زیاتوالي خبرې وشوې.

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال په افغانستان کې د اکبر موسسې د فعالیتونو ستاینه وکړه او د دې موسسې له مسوولینو یې وغوښتل چې له امارتي ادارو سره په همغږۍ د پراختیایي پروژو زیاتوالي او ښه ډول تطبیق ته پاملرنه وکړي. محترم ملا صاحب وویل، د اسلامي امارت په راتګ سره په افغانستان کې په مختلفو برخو کې پرمختګونه رامنځته شوي او نړیوال مرستندویه بنسټونه دې د افغانستان په بیارغونه کې همکاري وکړي.

ورپسې د اکبر موسسې رییس نمیک حیدروف خبرې وکړې. هغه وویل، په افغانستان کې د سرتاسري امنیت په ټینګېدو د پراختیایي کارونو لپاره ښه زمینه برابره شوې ده. نوموړي زیاته کړې، له همدې فرصت څخه په استفادې به هڅه وکړي چې په افغانستان کې د پراختیایي پروژو د تطبیق لپاره د نړیوالو مرستې راجلب او له امارتي ادارو او اړوندو مؤسسو سره په همغږۍ یې په ښه ډول تطبیق کړي.

په پای کې د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال له خپل لوري د پوره همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ.

## د سوداګریزو بانکونو له لوري د ټولګټو پروژو د تمویل میکانیزم لاسلیک شو

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۲۹مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې د مالیې وزارت او د افغانستان بانک ترمنځ د سوداګریزو بانکونو له لوري د ټولګټو پروژو د تمویل میکانیزم لاسلیک شو.

دغه سند د اقتصادي کمېسیون د کاري طرزالعمل د دوهمې مادې د پنځمې فقرې پر اساس جوړ شوی، څو په قانوني ډول د سوداګریزو بانکونو د ونډې اخیستو له لارې د ټولګټو پروژو تمویل ته زمینه برابره شي. د دغه سند موخې په ټولګټو پروژو کې د ونډې اخیستو او د دې پروژو د تمویل لپاره د اسانتیاوو رامنځته کول؛ د هېواد په دننه کې د سوداګریزو بانکونو لپاره د پانګونې فرصتونو برابرول او د سوداګریزو بانکونو د عوایدو د زیاتوالي لپاره د زمینې برابرول دي.

د دغه میکانیزم له مخې به مالیه وزارت له اړوندو سکټوري ادارو څخه ټولګټې پروژې غواړي او دغه وزارت به یې مالي موډلونه ترتیبوي. د افغانستان بانک به د ټولګټو پروژو په تمویل او تطبیق کې سوداګریز بانکونه ونډې اخیستو ته هڅوي.



محترم ملا عبدالغني برادر اخوند؛

# د خپلواکۍ ساتلو لپاره باید عصري زده کړو او ټکنالوژۍ ته مخه کړو

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۲۸مه نېټه په ملي دفاع وزارت کې د افغانستان خپلواکۍ ترلاسه کولو د ۱۰۶مې کلیزې په مناسبت جوړو شوو مراسمو کې ګډون وکړ.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وویل، د زمري ۲۸مې ورځې خپلواکي په اسانه نه ده ترلاسه شوې، بلکې د ډېرو قربانیو او زحمتونو په بدل کې ګټل شوې، خو له بده مرغه افغانان د خپلو داخلي جګړو، تفرقو او دسایسو له امله ونه توانېدل چې دغه خپلواکي وساتي. په مسلسله توګه مو امکانات له لاسه ورکړل او له داخل څخه وپاشل شوو، چې هېواد مو د نورو استعماري قدرتونو تر ښکېلاک لاندې راغی؛ مګر د پخوا په څېر بیا هم افغانانو هېڅ استعماري قدرت ته اجازه ورنکړه چې په دې خاوره د ارام خوب وکړي. د زمري په ۲۴مه چې د غربي اشغال له ماتې سره برابره ده، یوځل بیا مو ټولې نړۍ ته وښوده چې افغانان په خپله خاوره د بل واک نه مني او له شل کلنې نه سترې کېدونکې مبارزې وروسته مو په پوره مېړانه او شهامت خپلواکي واخیسته.»

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د خپلواکۍ ورځو له نمانځنې څخه باید زموږ اساسي موخه نه یوازې د هغه وخت د قربانیو او مېړانې یادونه وي؛ بلکې اساسي موخه باید دا هم وي چې ترلاسه شوې خپلواکي وساتو او په بشپړه معنا د هر ډول سیاسي، اقتصادي او نظامي استعمار د بیا تکرار مخه ونیسو.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل: «موږ انقلابونه په ډېره درنه بیه ګټلي دي، چې د نورو لاملونو تر څنګ یې یو عمده علت د مادي اسبابو عدمِ مساوات و. د دې ګټلي انقلاب د ساتلو لپاره نه باید د قربانیو درنه بیه پرې کړو؛ بلکې د عصر د غوښتنو مطابق عصري زده کړو ته مخه کړو، د ټکنالوژۍ او عصري وسایلو څښتنان شو، دښمن ته د نوک ځواب په سوک او د مرمۍ ځواب په

میزایل ورکړو. ټول افغانان د لویو دیني او ملي ارزښتونو د ســاتنې لپاره یو موټی شــو، په یو او بل نوم رامنځته شوې تفرقې له منځه یوســو او پرېنږدو چې خدای مه کړه دا سپېڅلی نظام د بې اتفاقۍ او تنګ نظرۍ ښکار شي.»

مــحترم ملا صاحب وویــل، له غربي اشــغال څخه د خپلواکۍ په اخیستو سره ببرته افغان ملت د خپل غرور او واک څښتن شو، چې لله الحمد اوس مو نه ملت اسیر دی، نه مو ســیاسي او اقتصــادي برخلیک بل څوک ټاکــي، نه مو مو مال او ناموس تــه په بده سترګه کتل کېږي او نه د بل چا په اشارو پرېکړې کوو.

لــه انګریزي ښــکېلاک څخه د هېــواد د خپلواکۍ د ۱۰۶مې کلیزې په مناســبت جوړو شوو مراسمو کې د ریاســتالوزراء اقتصادي مرســتیال پر ټولو بهر مېشتو افغانانو غږ وکړ، چې خپل هېواد ته راشئ، د خپل نظام او ملت ترڅنګ ودرېږئ او د نورو په لمسون له بې ځایه تخریب لاس واخلئ. اسلامي امارت ستاسې خپل نظام دی، ښه راغلاست درته وایي.

مــحترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند همــداراز پر ټولو هېوادونو هم غږ وکړ، چې د افغانستان په اړه بد نیت ونه لري، اسلامي امارت هرڅه څاري او په اړه یې محاسبې لــري. هغه زیاته کړه: «رابولو یې چې د افغانســتان له تاریخ څخه زده کړه وکړئ، دا ملت څوک اســیر نه شي نیولی؛ د لاسوهنې او تقابل پرځای د اصولو په چوکاټ کې راسره هر اړخیز ســیاسي او اقتصادي تعامل ته لار هــواره کړئ؛ همدا کار د ســیمې او نــړۍ هېوادونو د امنیت او اقتصادي تعامل لپاره اساس ګڼل کېږي.»

په پای کې د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال د زمري ۲۸مــې ویاړلې ورځې له امله ټولو هېوادوالو ته مبارکي وویله او د ازادۍ د ګټلو په لاره کې یې د ټولو شهیدانو او اتلانو روحونو ته دعا وکړه.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان د خپلواکۍ اخیستو د ۱۰۶مې کلیزې د لمانځنې په مناســبت د جوړو شوو مراسمو په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازادۍ پر څلي د ګلونو ګېډۍ هم کېښوده.

> **د خپلواکۍ ورځو له نمانځنې څخه باید زموږ اساسي موخه نــه یــوازې د هغــه وخت د قربانیــو او مېړانې یادونه وي؛ بلکې اســاسي موخــه باید دا هــم وي چې ترلاســه شــوې خپلواکي وســاتو او په بشپړه معنــا د هــر ډول ســیاسي، اقتصادي او نظامي استعمار د بیا تکرار مخه ونیسو.**

# کابل ښار ته له پنجشېر سیند څخه د اوبو د انتقال
## په اړه له یو خصوصي شرکت سره ناسته ترسره شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۳۰مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د کټوازي ګروپ خصوصي شرکت له مسوولینو سره وکتل. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، اسلامي امارت د کابل ښار د اوبو د کمښت ستونزې ته متوجې دی او په جدي او اساسي ډول یې د حل لپاره هڅې کوي. د کټوازي ګروپ شرکت مسوولینو وویل، چمتو دي چې د ټولو معیارونو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره له پنجشیر سیند څخه کابل ښار ته د اوبو د انتقال په پروژه کې پانګونه وکړي. هغوی زیاته کړه، د یادې پروژې په اړه به د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري د معلوماتو او اسنادو له ترلاسه کولو وروسته خپل تخنیکي ټیمونه ساحې ته ولېږي او د دوه اوونیو په جریان کې به د یادې پروژې سروې او ډیزاین بشپړ کړي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د اوبو او انرژۍ وزارت مسوولینو ته دنده وسپارله، څو د دې پروژې په اړه موجود معلومات او اسناد د کټوازي ګروپ شرکت مسوولینو ته په واک کې ورکړي او د پروژې د تخنیکي، مالي او تطبیقي اړخونو په اړه ورسره بحثونه وکړي. محترم ملا صاحب د یاد شرکت مسوولینو ته له خپل لوري د همکارۍ ډاډ ورکړ او د اوبو او انرژۍ وزارت او یاد شرکت له استازو یې وغوښتل چې په دوو اوونیو کې خپل راپور له اقتصادي معاونیت سره شریک کړي.



# افغانستان اوسمهال د اوسپنې پټلۍ په واسطه له اوو هېوادونو سره وصل شوی



د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د سوداګرۍ کچې زیاتېدو، د سوداګریزو انتقالاتو د بهیر چټکتیا او د سیمه ییز اتصال په برخه کې د افغانستان له جغرافیوي موقعیت څخه د اعظمي استفادې په موخه د اوسپنې پټلۍ شبکو پراختیا، اساسي جوړونې او بیارغونې ته ځانګړې پاملرنه کړې ده.

دا مهال افغانستان په مستقیم ډول د حیرتان اوسپنې پټلۍ په واسطه له ازبیکستان، د اقینې او تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ له لارې له ترکمنستان او د خواف – هرات اوسپنې پټلۍ پر مټ له ایران سره وصل شوی دی. پر دې سربېره د همدې اوسپنې پټلیو له لارې په غیر مستقیم ډول چین، ترکیې، روسیې او قزاقستان هیوادونو ته هم سوداګریز انتقالات ترسره کوي.

افغانستان د اوسپنې پټلۍ د یادو څلورو مسیرونو څخه په ورځني ډول تر لس زره او په میاشتني ډول بیا تر ۳۰۰ زره مټریک ټنه زیات انتقالات ترسره کوي. د اسلامي امارت له لوري د اوسپنې پټلۍ د یادو شبکو په بیارغونې او پراختیا سره د ریلي ترانسپورت لګښتونه راکم شوي، د سوداګریزو توکو خوندیتوب زیات شوی، له نړیوالو بازارونو سره اتصال پراختیا موندلې، له تجارتي بندرونو سره مستقیم ارتباط ټینګ شوی، سوداګریز فرصتونه زیات شوي او له سیمه ییزو او نړیوالو هیوادونو سره تجارتي او ترانزیټي همکارۍ وده کړې ده.

له دې ورهاخوا د هرات - کندهار اوسپنې پټلۍ تفصیلي ډیزاین او سروې، د بلخ - هرات اوسپنې پټلۍ تفصیلي ډیزاین او سروې، د اندخوی – شبرغان د ۵۵ کیلومټره اوسپنیزې کرښې سروې او تفصیلي ډیزاین، د آقینې – اندخوی د پاتې ۱۰ کیلومټره اوسپنیزې کرښې بشپړول، د خواف - هرات د څلورمې قطعې د لومړي فاز رغولو، د تورغونډۍ بندر پراختیا او د حیرتان بندر د ریلي او غیر ریلي ترمیماتو پروژو کارونه هم په ښه ډول روان دي، چې له پلان سره سم به په ټاکلي وخت بشپړ شي.

# پروژه‌های ساخت بندهای آب برای تولید برق

امارت اسلامی افغانستان فرصت‌های بسیار خوبی را برای سرمایه‌گذاری در سکتورهای مختلف فراهم کرده است. تمام سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی می‌توانند با اطمینان کامل در این سکتورها سرمایه‌گذاری کنند. امارت اسلامی به آنان از هرگونه حمایت و همکاری اطمینان میدهد.

| نام پروژه | موقعیت | ظرفیت پروژه (میگاوات) | تولید سالانه برق | اسناد موجود |
|---|---|---|---|---|
| پروژهٔ برق آبی قلعه مامی | تخار | ۴۴۵ | ۱۷۵۶.۵ | مطالعات امکان سنجی |
| پروژهٔ برق آبی سرتاق | کنر | ۴۱۰ | ۱۴۶۹ | مطالعات امکان سنجی اولیه |
| پروژهٔ برق آبی ساگی | کنر | ۳۰۰ | ۱۱۹۱ | مطالعات امکان سنجی اولیه |
| پروژهٔ برق آبی گردگاو | تخار | ۲۳۷ | ۹۵۴ | مطالعات امکان سنجی اولیه |
| پروژهٔ برق آبی سروبی ۲ | کابل | ۱۲۸.۳ | ۵۴۳.۶۳ | مطالعات امکان سنجی |
| پروژهٔ برق آبی پای کته‌سنگ | دایکندی | ۱۲۰ | ۵۷۸.۴ | راپور شناسایی |
| پروژهٔ برق آبی گلبهار | پروان | ۱۱۶ | ۷۴۸ | مطالعات امکان سنجی |
| پروژهٔ برق آبی اولمباغ | ارزگان | ۹۰ | | سروی ابتدایی |
| پروژهٔ برق آبی خان‌آباد ۲ | کندز | ۱۰.۴ | ۳۹.۱ | مطالعات امکان سنجی |
| پروژهٔ برق آبی باغدره | کاپیسا | ۲۳۹.۱ | | مطالعات امکان سنجی |
| پروژهٔ برق آبی شال بند | کنر | ۷۹۸ | | مطالعات امکان سنجی |

Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د کانونو په سکټور کې ۱۷۰ زره هېوادوال په کار مصروف دي

اوسمهال په هېواد کې د لوی مقیاس ۲۹ او کوچني مقیاس ۱۷۵ کانونو د اکتشاف او استخراج چارې روانې دي.



په دې کانونو کې سرپنټین، کرومایټ، تالک، سره زر، گچ، چونه، آهک، نفرایټ، مرمر، مالگه، سرب او جست، کلیست، رخام، ټراورټین، ډبرو سکاره، یاقوت، سیمنټو خام مواد، باریت، اوسپنه، مس او داسې نور منرالونه شامل دي.

د کانونو په پروژو کې په مجموعي ډول شاوخوا ۱۷۰ زره هېوادوال په مستقیم او غیر مستقیم ډول په کار بوخت دي.

# افغانستان اوسمهال د خپلې اړتیا وړ ۶۰ سلنه اوړه په کور دننه تولیدوي

۱

په هېواد کې د اوړو تولید ۲۰۰ فابریکې فعالیت کوي

۲

افغانستان په کلني ډول شاوخوا ۶ میلیون ټنه اوړو ته اړتیا لري

۳

افغانستان اوسمهال د خپلې اړتیا وړ ۳.۵ میلیون ټنه اوړه په کور دننه تولیدوي

۴

یو میلیون ټنه اوړه د یادو ۲۰۰ فابریکو او پاتې نور د اطرافي ژرندو په واسطه تولیدیږي

۵

په یادو فابریکو کې شاوخوا ۱۵۰ میلیون ډالر پانګونه شوې ده

۶

په دغو ۲۰۰ فابریکو کې ۲۵۰۰ هېوادوال په دایمي ډول په کار مصروف دي



اسلامي امارت د اوړو سکټور د پیاوړتیا او ملاتړ په موخه له بهر څخه د غنمو پر وارداتو تعرفې کمې کړې دي. له هېواد څخه بې د غنمو پر قاچاق بندیز لګولی او هر کال د غنمو د حاصلاتو په وخت کې له بزګرانو څخه اضافي غنم په مناسبه بیه پیري او په امارتي سیلوګانو او زېرمتونونو کې یې ساتي. د اړتیا پرمهال یې بازار ته وړاندې کوي.

# در حال حاضر حدود ۳۴ هزار هموطن در شرکت‌های امارتی مصروف کار اند

شرکت‌های امارتی نیمه فعال
۷

شرکت‌های امارتی غیر فعال
۳

شرکت‌های امارتی فعال
۳۴



مجموع کارکنان در تمام شرکت‌های امارتی:
**حدود ۳۴ هزار**

عواید شرکت‌های امارتی در سال ۱۴۰۳:
**۶۸.۵ میلیارد افغانی**

این شرکت‌ها در بخش‌های تولید و توزیع برق، تولید مواد ساختمانی، استخراج معادن، واردات و توزیع مواد نفتی، تولید کود کیمیاوی و تخم‌های زراعتی، واردات و توزیع مواد غذایی و ادویه، باربری و ترانسپورت، خدمات بندری، پروسس پنبه و تولید روغن، استخراج و تصفیه گاز، خدمات مخابراتی و انترنتی، چاپ اسناد ارزشمند، ذخیره‌سازی گندم و تولید مشتقات آن و چندین بخش دیگر، به هموطنان خدمات با کیفیت ارائه می‌کنند.



# مقالي

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند

لومړۍ برخه

# څلور کلن مزل؛
## لاس ته راوړنې او پرمختګونه

نجیب‌الله مایار



په دې لیکنه کې په تېرو څلورو کلونو کې په افغانستان کې د کانونو د اکتشاف او استخراج او برېښنا په برخو کې د پیل شویو پروژو او لاسلیک شویو هوکړو په اړه بحث شوی دی.

## سریزه

په افغانستان کې د ا سلامي امارت د واکمنۍ په پیلېدو سره په لــږه موده کې په ټول هېواد کې بشـــپړ امنیت ټینګ شـــو. په دې سره د نورو چارو ترڅنګ د اقتصادي فعالیتونو له پاره هم زمینه برابره شوه. که څه هم چې د افغانســـتان د خلکو د شـــتمنیو کنګل کېدو او نړیوالو بندیزونو ســـتونزې جوړې کړې وې او د دولت خزانه هم تشـــه وه، خو د هېواد د بیارغونې په برخه کې د اسلامي امارت لېوالتیا او تلوسې نه یوازې په دې برخه کې چارې ټکنۍ نه کړې، بلکې د لږې مودې په تېرېدو سره د هېواد په ګوټ ګوټ کې لویې زیربنایي پروژې یو پر بل پسې پیل شوې. په دې بهیر کې هغه پروژې چې له پخوا یې کارونه نیمګړي پاتې وو هم د بشپړولو کارونه یې پیل شـــول او یو شـــمېر نورې مهمې زیربنایي پروژې چې د افغانستان د خلکو د کلونو کلونو هیله وه هم پیل شوې چې ځینې یې بشپړې او د ځینو کارونه یې لاهم جریان لري. که څه هم په تېرو څلورو کلونو کې د ټولو شـــویو کارونو او پرمختګونو یادونـــه ګرانه ده، خو په دې لیکنه کې به یې یوازې مهمې اقتصادي پروژې یو پر بل پسې په لنډ ډول یادې کړو:

## د کانونو سکتور

اسلامي امارت د واک په ترلاسه کولو سره په بېلابېلو برخو کې د هېواد جوړونې هڅې غښتلې کړې، په دې لړ کې په کانونو ســـکتور کې د هغو پروژو کارونه هم پیل شول چې له پخوا یې کارونه نیمګـــړي پاتې وو او یا هېڅ نه و پیل شوي. دلته یې د مهمو زیربنایي پروژو یادونه کوو:



## د اوو لويو کانونو د تړونونو لاسليک

د رياســت الوزراء اقتصــادي مرســتيال محترم ملا عبدالغنــي برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۲ کال د تلې مياشتې په ۹مه نيټه د کانونو او پټروليم وزارت او ګټونکو شرکتونو ترمنځ د ٦،٥ ميليارد ډالرو په پانګونې سره د ۷ لويو کانونو تړونونه لاســليک شــول. په دغو تړونونــو کې د هرات ولايــت د غوريانو ولســوالۍ د اوســپنې کان څلــور بلاکونه ، د غــور ولايت د تولک ولسوالۍ د سرپو او جستو کان يو بلاک؛ د تخار ولايت د چاه آب ولسوالۍ د ســمتي سرو زرو کان او د لوګر ولايت د دوهم مس عينک کان قراردادونه شامل دي. د يــادو ۷ قراردادونــو د چــارو ترسره کولــو لپاره په مجموعــي ډول ٦ ميليــارده او ۵۵۷ ميليونــه ډالره پانګونه شوې ده.

## د طوطــي ميدان ګازو د اکتشــاف او استخراج تړون

د رياســت الــوزراء اقتصــادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۳ کال د ميزان مياشتې په ۱۹مه نېټه د کانونو او پټروليم وزارت او ازبيکستاني کمپنۍ ترمنځ د شاوخوا يو ميليارد ډالرو پــه پانګونې سره د طوطي ميدان ګازو د اکتشــاف او اســتخراج لس کلن تړون لاسليک شو. د دغه تړون له مخې قراردادي کمپنۍ په لومړي کال ۱۰۰ ميليون او د لســو کلونو په جريان کې يو ميليــارد ډالره پانګونه کوي، چې له استخراج شــوو ګازو څخه په لومړيو دوو کلونو کې ۱۰۰ ميګاواټه ګازي برېښنا هم توليدوي. د فارياب ولايت د طوطي ميدان ګازو زېرمې شاوخوا اووه زره کيلومټره مربع مساحت لري چې د استخراج په پيل سره بــه يې تر ډېره حده د هېواد د ګازو اړتياوې پوره او زرګونو هېوادوالو ته به په مستقيم او غير مستقيم ډول د کار زمينه برابره کړي.



## جوزجان کې د سيمنټو د توليد فابريکه

د رياســت الــوزراء اقتصادي مرســتيال مــحترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د عقرب مياشــتې په اتمه نېټه د جوزجان ولايت په يتيم تاق ســيمه کې د کانونــو او پټروليم وزارت او ۷۷ ترکي شرکت ترمنځ د سيمنټو لويې توليدي فابريکې د

جوړولو تړون لاسلیک شو. د دغه تړون له مخې به قراردادي شرکت د یادې فابریکې د جوړولو په برخه کې ۱۶۳ میلیون ډالره پانګونه کوي او په ورځني ډول به د ۳۰۰۰ ټنو سیمنټو د تولید وړتیا ولري. د کانونو او پټرولیم وزارت مسوولین وایي، دا تړون چې له مخې به یې یاد ترکي شرکت د سیمنټو د اکتشاف، استخراج، تولید او ټولنیزو خدماتو په برخو کې پانګونه کوي، د ۳۰ کلونو له پاره په پام کې نیول شوی دی. د سیمنټو د دغه تولیدي فابریکې په جوړېدو سره به شاوخوا ۱۲۰۰ هېوادوالو ته په مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي.

## لوګر کې د سیمنټو د تولید فابریکه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د جدې میاشتې په څلورمه نېټه د کانونو او پټرولیم وزارت او خصوصي شرکت ترمنځ د لوګر سیمنټو تولیدي کارخونې تړون لاسلیک شو. دغه کارخونه د لوګر ولایت په التمور سیمه کې موقعیت لري چې خصوصي شرکت به یې د جوړولو لپاره شاوخوا ۱۴۵ میلیون ډالر پانګونه کوي او په ورځني ډول به د ۲۵۰۰ ټنه سیمنټو د تولید ظرفیت ولري. په دغه کارخونه کې سلګونو هېوادوالو ته کاري فرصت برابر او همدا راز به د خصوصي شرکت له لوري د سیمې اوسېدونکو ته په روغتیايي او ښوونیزو برخو کې هم خدمات وړاندې شي.

## د کندهار د سیمنټو فابریکه

دا فابریکه د کندهار په صنعتي ښارګوټي کې د سیمنټو کان ته نږدې په ۱۰۰ جریبه ځمکه کې د ۱۰۰ میلیون ډالرو په لګښت جوړیږي. د دغه فابریکې ډېرې چارې بشپړې شوې او د تخنیکي وسایلو په نصبولو سره، فابریکه کولی شي د سیمنټو تولید پیل کړي. تمه ده چې دا فابریکه به په لومړي پړاو کې هره ورځ ۱۵۰۰ ټنه او په راتلونکو پړاوونو کې به تر ۵۰۰۰ ټنو پورې سیمنټ تولید کړي.



## د برېښنا سکتور

### د کجکي بند دوهم فاز

په هلمند ولایت کې د کجکي د برېښنا بند د دوهم فاز چارې د ریاســـت الوزراء د اقتصادي مرستیال له خوا د ۱۴۰۱ کال د اســـد په پنځمه نېټه پرانیســـتل شوې. مـــحترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دغه پروژې د کار د پیل په مراسمو کې وویل چې هېواد په مرستو او خیراتونو نه جوړېږي؛ بلکې په خپله به یې جوړوو. د دغې پروژې کارونه په ټاکلي وخت پای ته ورسېدل چې د کجکي بند د برېښـــنا ظرفیت له ۵۱ میګاواټو څخه ۱۵۱ میګاواټو ته لوړ او پر هلمند سربېره به کندهار ته هم برېښنا ورکړي.

### نغلو تـــه څېرمه د لـــس میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژه

د ریاســـت الوزراء اقتصـــادي مرســـتیال محترم ملا عبدالغنـــي بـــرادر اخونـــد د کابل ولایـــت د سروبي ولســـوالۍ د نغلو له بند سره نیـــږدې د ۱۰ میګاواټه لمریـــزې برېښـــنا د تولید پـــروژې د جوړولو چارې د ۱۴۰۲ لمریز کال د سنبلې په ۲۸ مه نېټه پرانیستې. د دغـــه پـــروژې چارې په ټـــاکلي وخت بشـــپړې او اوسمهال عملاً ترې ګټه اخیستل کېږي.

### د شبرغان ـ الوان دښتې د ۵۰۰ کیلو ولټه مزي د غځولو پروژه

د مـــحترم ملا عبدالغني برادر اخونـــد په حضور کې د شبرغان – الوان دښتې د ۵۰۰ کیلوولټه برېښنا مزي د پاتې چارو او همدارنګه د دشـــت الوان سب سټېشن د پراختیا پروژو د بشپړولو موافقتنامې د ۱۴۰۲ لمریز کال د عقرب په ۲۴ مه لاســـلیک شوې. له شبرغان څخه تر دشـــت الوان پورې د برېښـــنا دغه پروژه چې له افغان انوېسټ خصوصي شرکت سره یې قرارداد وشو، نه یوازې دا چې د هېواد صنعت ته به یې ګټه ورسېږي، بلکې په دې سره به افغانســـتان ته د سلګونو مېګاواټه برېښنا د انتقال زمینه برابره او په کلني ډول به لســـګونه میلیونه ډالره سپما شي. وروستي معلومات ښيي چې د شبرغان – الوان دښتې ۵۰۰ کیلو ولټ مزي غځولو پروژې چارې ۸۵ ســـلنه پرمخ تللې دي. د افغان انویست خصوصي شرکـــت د معلوماتو له مخې د شبرغان – الوان دښـــتې ۵۰۰ کیلو ولټ مزي غځولو پروژې چارې په ښـــه ډول روانې دي چې ۸۵ ســـلنه کارونه پرمخ تللي او په ټاکلي وخت به بشپړ شي. د دښت الوان سب‌سټېشن تخنیکي مطالعات بشـــپړ شـــوي او په نږدې وخـــت کې به یې ساختماني چارې هم پیل شي.

### د شاوخوا څلور میلیارده افغانیو په پانګونې د درېیو پروژو د تړون لاسلیکول

د ریاســـت الـــوزراء اقتصادي مرســـتیال مـــحترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضـــور کې د ۱۴۰۳ کال د وري میاشـــتې په ۵ مـــه نېټه د مالیې، اوبـــو او انرژۍ وزارتونو، د افغانستان برېښنا شرکت او خصوصي سکټور ترمنځ د شـــاوخوا څلـــور میلیارده افغانیو په ارزښـــت د برېښنا تولید او ســـاختماني چارو د څلورو پروژو تړونونه لاســـلیک شـــول. د هرات پـــه ولایت کې د دوه ســـب سټېشـــنونو جوړول او د ۲۲۰ کیلو ولټ برېښـــنا مزي غځول، کابل ښار کوټې سنګي ساحه کې د سوداګریز مارکېټ او هلمند کې د سوداګریز مرکز او استوګنې

اپارتمانونو جوړول دي. پر دې پروژو شاوخوا څلور میلیارده افغانۍ پانګونه کیږي. د دې پروژو له جملې له ترکمنستان څخه هرات ولایت ته د ۲۲۰ کیلوولټ برېښنا مزي غځولو پروژه بشپړه شوې ده.

## د ۲۲,۷۵ میګاواټه لمریزې برېښنا پروژې عملي چارو پیل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۳ لمریز کال د میزان میاشتې په ۱۷مه نېټه د کابل ولایت په سروبي ولسوالۍ کې له نغلو بند سره نږدې د ۲۲.۷۵ میګاواټه لمریزې برېښنا پروژې د عملي چارو د پیل پرانیسته وشوه. د ۲۲.۷۵ میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پر پروژه د ۷۷ ترکي او زولرستان داخلي شرکت له لوري شاوخوا ۱۸ میلیون ډالره پانګونه کېږي، چې چارې یې بشپړېدو ته نږدې شوې دي.

## د ۲۲۸ میګاواټ برېښنا د تولید او لیږد لس پروژې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې ۱۴۰۴ لمریز کال د وري میاشتې په اوومه نېټه د افغانستان برېښنا شرکت او خصوصي سکټور ترمنځ د برېښنا تولید د اوو او د برېښنا انتقال د دریو پروژو قراردادونه لاسلیک شول. د برېښنا تولید په اوو پروژو کې په بلخ ولایت کې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا، په هرات ولایت کې د پنځه میګاواټه لمریزې برېښنا، په لغمان ولایت کې د لس میګاواټه لمریزې برېښنا، په هرات ولایت کې د ۲۰۰ میګاواټه بادي برېښنا د لومړي فاز ۴۳.۲ میګاواټه برېښنا، په لوګر ولایت کې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا، په ننګرهار ولایت کې د ۴۰.۲۵ میګاواټه لمریزې برېښنا، په جوزجان ولایت کې د ۵۰ میګاواټه ګازي برېښنا پروژې شاملې دي چې د برېښنا مجموعي ظرفیت یې ۲۲۸.۴۵ میګاواټو ته رسېږي. د برېښنا د انتقال په پروژو کې بیا د کندهار ولایت ختیځ برېښنا کوټ او د زابل ولایت د قلات برېښنا کوټ جوړولو او له کجکي تر کندهار پورې د ۱۱۰ کیلو ولټ برېښنا مزي غځولو پروژې شاملې دي. د یادو پروژو د تطبیق لپاره کورني او بهرني خصوصي شرکتونه ۲۰.۷ میلیارده افغانۍ پانګونه کوي چې چارې به یې په معیاري ډول پر ټاکلي وخت بشپړې شي.



## د کابل د ارغندی سب ستیشن د پاټې چارو بشپړول

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۳ لمریز کال د چنګاښ میاشتې په اوومه نېټه د ارغندی سب سټېشن د پاټې چارو د پیل پرانیسته وشوه. دا سب سټېشن د بغلان له خواجه الوان دښتې څخه د کابل تر ارغندی سیمې پورې د ترکمنستان برېښنا د لېږد له پاره جوړېږي، چې لګښت یې اته میلیونه او شپږ سوه زره ډالره اټکل شوی دی. د دې پروژې د کارونو په بشپړېدو سره به د کابل په ګډون د غزني، پکتیا، خوست او ننګرهار ولایتونو شاوخوا څلور سوه زره کورنۍ له برېښنا څخه برخمنې شي. دغه راز د برېښنا د کمښت ستونزه به تر یوه بریده راکمه او ورسره به د صنعت په برخه کې پرمختګ رامنځته شي. د دغه پروژې چارې بشپړېدو ته نږدې شوې او ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## ارزګان کې د برېښنا رسونې پروژه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشتې په نهمه نېټه له کجکي بند څخه د ارزګان ولایت دهراوود ولسوالۍ ته د برېښنا رسونې لویه پروژه پرانیسته. له کجکي بند څخه د ارزګان ولایت دهراوود ولسوالۍ ته د برېښنا رسونې دغه پروژه د افغانستان برېښنا شرکت په مالي ملاتړ د ۲۰۱ میلیون افغانیو په پانګونې پلې کېږي، چې په بشپړېدو سره به یې شاوخوا ۴۵۰۰ کورنیو ته برېښنا ورکړل شي.



## کندهار، هلمند او زابل کې د برېښنا درې لويې پراختيايي پروژې

د رياســـت‌الوزراء اقتصــادي مرســتيال مــحترم ملا عبدالغنـــي برادر اخوند، په حضور کې د ۱۴۰۴ لمريز کال د ثور مياشـــتې په اتمه نېټه پـــه کندهار، زابل او هلمند کې د برېښنا درېيو لويو پراختيايي پروژو پاتې چارې پيل شــوې. په دې پروژو کې د زابل مرکز قلات سب‌ستېشـــن او د کندهار ختيځ سب‌ستېشن د پاتې چارو بشـــپړول او همداراز د کجکي برېښـــنا توليدي فابريکې څخه د کندهار ختيځ سب‌ستېشـــن پورې د ۱۱۰ کېلوولټ برېښنا لېږد مزي غځول شامل دي. په يـــادو پروژو باندې نـــږدې يو ميليارد افغانۍ لګښـــت راځي چې ســـلګونه زره نوي پېرودونکي به له برېښنا برخمن او ډېرو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه رامنځته کړي. د يادو پروژو په بشپړېدو سره به د کجکي برېښنا توليدي فابريکې ټوله برېښنا په اساسي ډول جذب او صنعتي، سوداګريزو او کرنيزو سکټورونو ته به د اړتيا وړ برېښنا برابره شي.

## لغمان کـــې د لس مېګاواټه لمريزې برېښنا پروژه

د رياســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴ لمريز کال د جوزا مياشـــتې په لومړۍ نېټه په لغمان ولايت کې د لس مېګاواټه لمريزې برېښـــنا پـــروژې د چارو د پيل پرانيسته وشـــوه. په لغمان ولايت کې د لس مېګاواټه لمريزې برېښـــنا پر پروژه د خصوصي سکټور له لوري شپږ ميليون ډالر پانګونه کېږي، چې د چارو په بشـــپړېدو سره به يې د سيمې اوســـېدونکو د برېښنا ســـتونزه تر يوې اندازې حل او صنعتـــي فعاليتونه به ورسره پراختيا ومومي.

## هرات کې د برېښنا دوې پروژې

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴ لمريز کال د جوزا مياشتې په لسمه نېټه په هرات ولايت کې د ۴۳.۲ مېګاواټه بادي او پنځـــه مېګاواټـــه لمريزې برېښـــنا توليـــدي پروژې پرانيستل شوې. د خصوصي سکټور او افغانستان برېښنا شرکت له لوري د ۴۳.۲ مېګاواټه بادي برېښـــنا پر پروژه څه باندې ۶۴ ميليون ډالـــر او پر پنځه مېګاواټه لمريزه برېښنا پروژه شاوخوا ۳.۵ ميليون ډالر پانګونه کېږي.

## د لس زره مېګاواټه برېښنا د توليد هوکړه‌ليک

د رياســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتيال مـــحترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴ لمريز کال د جوزا مياشـــتې په لســـمه نېټه په هرات ولايت کې د ۴۳.۲ مېګاواټه بادي او پنځه مېګاواټه لمريزې برېښنا توليدي پروژې پرانيستل شوې. د خصوصي سکټور او افغانســـتان برېښـــنا شرکت له لوري د ۴۳.۲ مېګاواټه بادي برېښـــنا پر پروژه څه باندې ۶۴ ميليون ډالر او پر پنځه مېګاواټه لمريزه برېښنا پروژه شاوخوا ۳.۵ ميليون ډالر پانګونه کېږي.

## لوګـــر کې د شلوېښـــت مېګاواټه لمريزې برېښنا پروژه

د رياســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴ لمريز کال

د اسد میاشتې په نهمه نېټه د لوګر ولایت په محمدآغه ولسوالۍ کې د څلویښت میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې چارې پیل شوې. دا پروژه چې د لوګر ولایت په محمدآغه ولسوالۍ کې پلي کېږي دوې برخې لري چې یوه یې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید دستګاه جوړول دي چې په بشپړولو یې ۲۸ میلیون ډالره لګښت راځي. د دې پروژې بله برخه د ۱۲۶ میګاولټ امپیر سب استیشن جوړول او د برېښنا د انتقالي لین غځول دي چې ۷ میلیونه او ٦۰۰ زره ډالره لګښت لري. دا پروژه چې په پام کې ده په ۱۸ میاشتو کې یې د جوړولو چارې بشپړې شي، د سیمې ۴۰ زره کورنیو ته به د اړتیا وړ برېښنا ورسوي او د محمدآغې د صنعتي پارک د برېښنا د کموالي ستونزه به هم حل کړي.

## بلخ کې ۴۰ مېګاواټه لمریزه برېښنا

د بلخ ولایت د دهدادي ولسوالۍ په برېښناکوټ سیمه کې د ۲۸ میلیون ډالرو په لګښت د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا د تولیدي شبکې د جوړېدو چارې د ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشتې په څوارلسمه نېټه پیل شوې. دا پروژه پر شاوخوا ۵۰۰ جریبه ځمکې کې د غضنفر ګروپ په پانګونې او د ذولرستان شرکت په تخنیکي همکارۍ په دوو کلونو کې بشپړه شي. له دغې برېښنا به شاوخوا ۴۰ زره کورنۍ او ۱۲۰۰ صنعتي او تولیدي فابریکې برخمنې شي.

**دوام لري...**



Afghanistan will achieve self-sufficiency in electricity and even begin exporting electricity to neighboring countries. The production of 10,000 MW is expected to boost annual GDP growth by 6–7 percent.

Moreover, this project will eliminate Afghanistan's dependence on imported electricity, instead relying on domestic resources. The benefits will extend to all Afghans across the country. Homes will be lit, and better services will be provided in universities, schools, hospitals, and government institutions.

The development of these projects, along with the establishment of thousands of new factories and employment for millions of Afghans, will generate significant revenues for the state treasury.

Most importantly, the practical launch of these power projects will open doors for thousands of domestic and foreign investors in multiple sectors. They will gain greater confidence that Afghanistan now offers a secure investment environment under a system that fully supports investors.

## Conclusion

The production of 10,000 megawatts of electricity is a transformative step for Afghanistan's economic growth. It will create millions of jobs, reduce poverty, expand industry, and strengthen domestic production, all under the full support of the Islamic Emirate and the private sector (Azizi Energy).

This initiative will not only accelerate national development but also position Afghanistan as a potential energy-exporting country with a key role in regional connectivity. Electricity will reach every Afghan household, public service delivery will improve, youth will find new opportunities, and small, medium, and large enterprises—the backbone of the economy—will flourish with reliable power. From textiles to food processing, from construction to technology, from mining to final products, this project will open new doors for innovation and entrepreneurship, strengthen domestic production, and establish Afghanistan as a competitive player in the regional economy.



In the first phase alone, an estimated 150,000 Afghans will gain direct employment in electricity production, installation, distribution, and maintenance. Beyond this, millions of Afghans will find jobs in industrial factories. Per capita annual income will rise, and living standards will improve significantly.

The project will also extend electricity to remote rural areas, linking villages with cities. Small-scale businesses will expand in rural regions, raw material production will increase, and commercial exchange between urban and rural markets will grow stronger.

This rural-urban integration will also stimulate transport development. New roads and networks will be constructed, connecting the entire country through transportation corridors, which will in turn encourage tourism. Communities from different regions will interact, fostering cultural and economic awareness nationwide.

Agriculture will also experience direct growth. Cold storage facilities will be established, greenhouses will expand, and agricultural products will reach markets on time through improved transport. Factories producing improved seeds, fertilizers, and agro-chemicals will be set up. Farmers will gain access to modern machinery, livestock farming will expand, and dairy collection, processing, and packaging centers will increase. Altogether, these developments will strengthen Afghanistan's agriculture and livestock sector, with positive spillovers for the economy.

It is projected that within 7 to 10 years,



**10,000 megawatts of electricity:**

- 3,700 MW from gas
- 3,400 MW from coal
- 2,000 MW from water
- 700 MW from wind
- 200 MW from solar

**In the coal-based projects, the initial phase includes:**

- 750 MW in Cheshma Shafa, Balkh province
- 500 MW in Hairatan, Balkh province
- 300 MW in Khwaja Alwan desert, Baghlan province
- 150 MW in Karukh district, Herat province

Additional projects will be planned after further surveys.

In gas-based projects, the initial phase includes:

- Projects with a capacity of 200–800 MW in Sheberghan
- Projects with a capacity of 200–800 MW in Herat
- A project with a capacity of 800 MW in the northern region

Further projects will be planned following the discovery of additional gas reserves.

**In hydroelectric projects, the initial phase includes:**

- 210 MW from the Bagh Dara Dam
- 180 MW from the second Sarubi Dam

Additional projects will be jointly identified with the Ministry of Water and Energy.

For wind power generation, projects are planned in Herat, Farah, and Nimroz provinces, and for solar power generation, several projects are planned in different regions.

## The Economic Value of the 10,000-Megawatt Power Generation Plan

Afghanistan has long suffered from a severe shortage of electricity. The root causes of this crisis lie in decades of war and the negligence of previous governments. The electricity deficit has had profound negative impacts on the national economy: industry has remained underdeveloped, millions of Afghans have migrated abroad due to unemployment, and society has failed to achieve necessary growth.

The Islamic Emirate has now opened the doors of investment to both domestic and foreign investors to address this fundamental challenge. Fortunately, the 10,000-megawatt power generation plan by Azizi Energy, in cooperation with the Ministry of Water and Energy, represents a major step toward a permanent solution.

With the generation of 10,000 MW, Afghanistan is expected to witness an industrial and economic revolution. Notably, 6,000 MW of this capacity will be allocated exclusively to industrial factories. At present, Afghanistan has approximately 6,000 active factories, most of which lack sufficient power. This project will enable them to receive 24-hour electricity, ensuring continuous production.

Undoubtedly, thousands of new factories will also emerge, accelerating production processes and enabling citizens to access essential goods at lower prices, in less time, and with reduced costs.

projects have been launched within the country. At the beginning of the current year 1404 SH alone, seven major projects were initiated in different provinces, generating a combined capacity of 261 megawatts from solar, wind, and gas resources, with an investment of 23.7 billion Afghanis.

In addition, a memorandum of understanding was signed with Azizi Energy, a private company, to generate 10,000 megawatts of electricity from water, coal, gas, solar, and wind resources. This project requires an investment of 10 billion USD and will initially create 150,000 jobs while meeting the country's entire electricity needs. The majority of this power—6,000 megawatts—has been allocated specifically for the industrial sector.

In this article, we will briefly discuss the economic value of this electricity, but we shall first define industrial electricity.

## What is Industrial Electricity?

Industrial electricity refers to the type of electricity used in factories and production facilities for operating machinery, production equipment, and industrial processes. These systems are regulated through low-voltage, medium-voltage, and high-voltage power panels, supplying electricity for lighting, equipment, and machinery. In other words, industrial electricity is large-scale power utilized for production and industrial requirements.

Industrial electricity generally comprises several components, the most important of which are: electricity generation, distribution and control, utilization, design and installation of electrical systems, maintenance and repair of industrial electrical equipment, planning and control of automation systems, and troubleshooting and resolving issues within electrical systems.

Industrial electricity is generated from coal, wind, solar, water, and gas—resources that Afghanistan possesses on a large scale. With the availability of industrial electricity, industrial activities expand, production costs are reduced, the efficiency of production processes increases, power supply becomes reliable and continuous, and overall, industrial electricity plays a vital role for factories, transportation, hospitals, and daily life. Electricity generation also creates numerous employment opportunities and raises the standard of living for people.

## The 10,000-Megawatt Electricity Generation Plan

The private company Azizi Energy submitted a plan to the Ministry of Water and Energy to generate 10,000 megawatts of electricity from coal, gas, water, solar, and wind resources. After discussions between the Ministry of Water and Energy and Azizi Energy, a memorandum of understanding was signed in the presence of Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, Deputy PM for Economic Affairs, on August 02, 2025.

According to this plan, Azizi Energy will invest 10 billion USD for the generation of



# 10,000 MEGAWATTS OF ELECTRICITY: EMPOWERING AFGHANISTAN'S INDEPENDENT INDUSTRIAL FUTURE

## Introduction

Although Afghanistan possesses vast and rich resources for electricity generation, it still relies heavily on imported power. Uzbekistan, Turkmenistan, Tajikistan, and Iran are the four countries from which Afghanistan imports around 80 percent of its electricity needs. This imported electricity is neither continuous nor reliable; at times, the supply decreases, and at other times it is completely cut off—causing major difficulties for industrial factories and ordinary citizens.

For decades, Afghanistan has faced the serious challenge of electricity shortages, yet no government has devised a fundamental solution. During the past twenty years of occupation, despite the flow of significant amounts of money into Afghanistan, domestic energy resources were not utilized to power industrial machinery or light Afghan homes. Instead, under foreign influence, nearly all funds were spent on imported electricity.

With the Islamic Emirate's assumption of power, special attention was directed toward the country's economic growth. The greatest focus in this regard was on securing electricity, as electricity is considered the foundation of industry. A reliable power supply directly impacts other industrial sectors, service delivery, daily operations, production levels, and even agriculture.

Fortunately, as a result of the Islamic Emirate's continued efforts, over the past three years important electricity generation

| | |
|---|---|
| **Publisher:** | Deputy PM for Economic Affairs Office |
| **Editorial Board:** | Maulvi Abdullah Azzam, Maulvi Zabehullah Nasir, Amanullah Hanifi, Fazal Wali Shirani and Najibullah Mayar |
| **Chief Editor:** | Maulvi Khaliq Dad Taqi |
| **English Translator:** | Sajad Ahmad K. |
| **Graphic Designer:** | Ataurahman Saeid |
| **Photojornalist:** | Hujjatullah Qazizadah |

Marmarin Palace, Malik Asghar Square, Kabul

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af

**Please provide proper attribution when using content from this magazine.**